**لیکونکی** : اند ریو کویلتي (Andrew Quilty) .
**منبع او دخپریدو نیټه** : انتی وار «2019-10-31».
**ژباړونکی** : پوهند وی دوکتور سید حسا م «مل» .

------------------------------------------------------------------------

# دسی آی ای ترملا تړلاندي ملیشا په ا فغا نستا ن کي په نښه کړ شوی کلینیکونو کي دروغتیا يي کارکونکو اود ملکی وګړو وژنه

***A CIA backed Militia targeted clinics in Afghanistan, killing Medical workers and civilians***



*د میدان وردګوولایت د دایمیرداد ولسوالی تنګي سیدان روغتیایی کلینیک چی د« 2019 » کال په پیل کې دغه عکس اخیستل شوی. کوم چي د غه کلینیک د سویډن کمیټې لخوا پرمخ وړل کیږي د دوو بریدونو صحنه وه ، یو یې د دفبروری میاشت کال « 2016 » او بل یې د جولای میاشت کال « 2019 . عکس: د (intercept) لپاره چمتو شوی*

د ما رچ د میا شتي په (اتمه) نیټه کا ل(2019) دافغانستان دوردګو په ولایت کي دسویډن هیواد څخه څلوروتنوروغتیایی کارمندانو کوم چي په دي کلنیک کي کارکول ، تېولو سره یو ځای له یو ترموزڅخه راچارپیر چای څکل اوسره خبری اتری کول ، شپه ناوخته په همدی ځای یعنی د کلنیک دسا تونکو په کوټه کي سره خپل بستری وغوړول او ویده شول دوی یوڅه موده وروسته دهلیکوپټرود وزرونوپه لوړآوازسره له خوبه راویښ شول اوبیا وروسته لا سترګی نه وه را پټی کړي چي د تنګی سیدان څخه له لیری واټنه د یو انفجا ر آواز تر غوږونوشول البته چی د دا ډول غږونو اوریدل په وردګوکي یوغیرمعمول هم نه دی چیری

چي په دی (شلو ) کلونو کی وخت نا وخت دا ډول غړونه اوريدل کيږی نو دهمدی دليل پر بنياد هغوی بيرته خوب ته لاړل.

دغه څلور تنه سويد نـي روغتيايی کارکونکو په نيمه شپه کي له سره بيا راويښ شول او وليد ل چي د کلينيک د سا تونکي خونی ته سره نژدی کلينيک ته د راننوتلو لوی دروازه منفجر شوی اودهغه کلنيک د کارمندا نو د دغه ويجاړه شوی دروازي څخه دګړندی ګامونو داوچتولو غړونه واوريدل ، بريد کونکودکلينيک دسا تونکي خونه اود کلينيک اصلی ودا نی ته ننوتل ، د کلينيک کارمند ا نو سره ټول په يو تياره خونه کي سره پټ شوی وه ځکه چي دودانی څودروازی له يوسره وهل شوی يا وران شوی وه نو وروسته له هغه چي د نوموړی کلنيک څخه يو کا رکونکي د دی پيښی په ا ړين ېنځه يا شپږ دقيقی ځرګندونه کول نو په همدغه وخت کي د کلينک کارمندان يی ا ند يښمن کړی وه او هغه داچي ټولو له يوسره دبريد کونکو دی کړنه هک اوپک کړی وه نودوی له يو سره د سا تونکی خونی ته ځا ن را نژدی کړل اوپه چيغه سره غږ وکړل چي مونږ دلته يوو .

وروسته له څو ثا نيو څخه د سا تونکي د خوني دروازه خلاصه شو اوهغه بريد کونکو سرتيرو خونی ته را ننوتل چي پخپلو سترګو کي توری عينکي ايښی وه تر څو چي دشپی په نيما يی کی ونه پيژندل شي نو هغوی د کلينيک کا رمندان له يوسره ديوال ته مخاخ ودرول دهغو لاسونه وتړل او خپل سرونه په يو ډول خولو يا ټکرو وپوښول اوټول يوي کوټی ته راوړل د کلنيک د کارمند ا نوڅخه يواځی **حشمت الله** نومی دکلنيک دواخانه دخپل مصونيت لپاره د يوی حا يل نقطی په بنه پيژند لی وه ، هغه څه نه پوهيده ا ما داسی ګما ن کول چی تيری کونکي سرتيری يواځی ممکن پنځه يا شپږ کسه وه چي پردغه کلنيک با ند ي بريد تر سره کړی.

دغه بريد کونکي ددی کلنيک کا رمند ا نو ته په طعنه آميز بنی سره وويل : تا سی د لته دهمدی لپا ره ياستی چي طا لبا نوسره مرسته وکړي؟دوی دافغانستان په دوه اصلی اورسمی ژبو يعنی دری اوپښتو سره پخپل مينځو کي خبری کول اما د کلنيک نيول شوی يا توقيف شوی کارمندان دهغو څخه په انګليسی ژبی باندی خبری اتری هم اوريدل .

**حشمت الله** انلاين يا انترسيټ (intercept) ته وويل مونږ پوهيد لو چي دوی خارجيان دی کله چي دوی انګليسی کارول يا په انګليسی باندی سره خبری کول.

د ا فغا نستا ن لپا ره دسويدن روغتيا يی کميټه (SCA) دوردک په کلينيک باندی دمارچ د ميا شتی بريد په هکله د مخه راپور نه وه ورکړ شوي کوم چي په ا فغا نستا ن کي په روغتيا يی تاسيسا تو د (سی آی ای) په ملاتړ د مليشو ډ لو له خوا د مخ په ډيريدونکي بريد څخه يوه بريد وه هغه څه کوم چي دغه بريد په مستند ډول دشاهدانو په اعتراف سره وړاندی شواو آنلاين (intercept) دغه اسناد هم وليدل او هم يی دشاهدانو اعتراف واوريدل.

حکومت پلوه افغان مليشه چي په وردګودورته ورته بريدونو لپاره پر بلل کيږی د (01) ډ لی په نوم پيژندل کيږي کوم چي په ښکا ره بنی سره د ا فغا نستا ن د ملی امنيت داداری له خوا نظارت کيږي دا د افغانستان داستخباراتی اداری يو ځانګړی واحد دی کوم چي په ټول هيواد کي هغوی د (سی آی اي ) له خوا مرسته شوی ، روزل شوی او لارښود شوی دي چي شنونکي پر هغه با ندی پوره پوهيږي .

د (01) مليشی ډ لی چي په مرکزی افغانستا ن په شمول دوردګو ، لوګر ، اودغزنـي په ولايا تو کي فعا ليت کوي د شپی له طرفه کليو ته د مرګ اودويری اودوراني لامل ګرځيد لي يا د مرګ اود ويری راوړونکي قا صد ا ن دي کوم چي د بين المللی اود بشر دحقونو د منل شوو قوانينو په سر غړونه سره غير قا نونی وژنی اعدا مونه ، د خلکو تری تم کيدو ، غلا

وهل او د ډبول مسول ډلی پیژندل شوی دي . داهغه څه دي کوم چي د **پا تریسا گوسمن** (Patricia Gossman) د آسیا لپا ره د بشر د حقونو داداری د ریس مرستیال له خوا چي د چهار شنبي په ورځ یو راپور وړاندی کړ څرګند شو اوهغه داچي نوموړي په تا یدی بنی سره وویل چي دغه برید ونه دهغو ملیشو له خوا ترسره کیږي کوم چي هغوی د (سی آی ای) له خوا ملا تړ کیږي او د بلی خوا څخه د سیمی شاهد ا ن په ډاګه کړ چي دغه د (01) ملیشو ډلی لمړی ملکی خلک په نښه کوی ا و بیا یی په برید سره وژني .




***تویټر حساب سکرین شا تونه د ملي امنیت« 01 » واحد لخوا پرمخ وړل کیږي ، کوم چې د پروموشنل یادونو سربېره ، د بلې لخوا د طالبانو د وژلو ادعا کیږي.***

***سکرین شاتونه: مداخله***

متحده ایالاتو حکومت د قا نون له مخې د خپلو پیسو څخه د بهرني ځواکونو واحدونو روزلو یا تجهیز کولوڅخه منع کوي یا په قا نونی بنی سره منع کړي دي کله چي که چیری "معتبر معلو ما ت" شتون ولري چې دې واحدونو د بشري حقونوڅخه جدي سرغړونه کړې ده. په هرصورت ، دا محد ود یت یوازې د بهرنیوچارو او دفاع ریاستونو باندې پلي کیږي؛ د استخبارا تي عملیا تو لپا ره هیڅ یوشا ن قا نون شتون نلري.

د ا نلاین ( intercept) اوږدی سوالونو ته د (سی آی ای) مطبوعاتی ویناوال ښاغلي **تیموتی بریت** (Timothy Barrett) وویل :موږ. خپل سرتا سری عملیات د قا نون سره سم د یو ځواکمن قا نون ترسیوری لاندی ترسره کوو ، اما دا طا لبا ن دی چی دهیڅ یو ورته

قا نون په ربا کې عمل نه کوي او حتی له دی نه لا بد تر کوم چي هغوی پخپل نا روا تبلیغا توکی دهغه کسا نود بی اعتبا رکولو هڅه کوی کوم چي هغه کسا ن د ا فغا نستا ن د مشروع او قا نونی حکومت څخه ملا تړ کوي .

اما خو له برید څخه پاتی ژوندی کسان ، دمړو خپلوان اوځنی افغانی چاروکي دنظر له مخی یو له بل سره توپیر لري . د میدان ورد ګو د سید آ با د له اولسوالي څخه **امیر محمد ملکزیی** وویل : د خلکو اود دولت ترمینځ وا ټن یواځی د شپی بریدونه دی ، چیرته چي د مارچ په ا تمه برید شوی وه ، په بریدونوکی دامریکایانو دلاس لرنی حد یا ونده توپیر لري مګر د مارچ د میا شتی په همدغه شپه چی د سویدن دروغتیایی کمیتی ترمشری لاندی پر کلنیک با ندی برید شوی نوپه هغه برید کی لږ ترلږه دری کورونه او یو جوما ت کلینیک ته څیرمه دهوایی بمبا ریو یا د چا ودید ونکو توکو له امله ویجا ړ شوی کوم چي پکي د ا مریکا یا نو اړوند ونده اخیستنه په ګوته کوي . په دی بریدونو کي څلور کسه وژل شوی چی دځای خلکو په قول وژل شوی کسان د طا لبا نو جنګیا لی وه او همدارنګه ددی برید پواسطه لږ تر لږه پنځه ملکی وګړی چي پکی یو ه ښځه اویوه (دولس کلن) نجلی هم شا مل وه خپل ژوند دلاسه ورکړل – یو ا وسیدونکی انترسیت (intercept) ته وویل چي هغه ا مریکا یا ن لید لی کله چي دهغوی د سرتیرو یوه ډ له هغه اودهغه کورنی دخپل ځا ن سره ددی هوایی برید د ننداری لپا ره دهغه له کوره د با ندی وویستل .

دهوایی بریدونو ارقا م کوم چي د متحده ایالاتو په افغانستان کي دهوایی میشتو ځواکونو له خوا په عا مه توګه ترسره شوی او بیا وروسته په یو اویل بل شکل سره نوموړی ارقام له مینځه وړل شوی ، ښود لی دي چي د مارچ د میاشتی په (اتمه) د ورد ک ولایت په یو نا معلوم ځا ی اود ما رچ په (نهمه) نیټه د سید آبا د په اولسوالي کی دری نور برید ونه تر سره شوی دی .

په هوایی اعتصاباتو یا تهاجمونو کی دملکی تلفاتو په اړه په افغانستان کي د ملګرو ملتونو د مرستی ما موریت یا ( یوناما) لخوا دراپورته شوی اند یښنوپه ځواب کي د متحده ایالاتود پوځ پوا سطه سره هغه څه چی دامریکی هوایی اویا زمینی ځواکونو ترسره کړي ، بشپړ څیرنه کړي دی او هغه داچی د هوایی اعتصا با تو د ترسره کولو څخه یوڅه موده وروسته دامریکی اود (نا تو) د(USFOR-A )موسسی په نوم مشهورمسول ویاند آنلاین (intercept ) ته وویل : زمونږ دارزوني پراسا س (USFOR-A) ثابته کړه چي په دی هوایی بریدونو کی هیڅ ملکیا ن نه وژل شوی اونه هم ټپی شوی دي .

د ا فغا نستا ن په روغتیا یی تا سیسا تو با ندي د بریدونو زیا توا لي کوم چي جنګي جرمونه جوړوی ،پرته له دي چي کلینیکونه د دښمنی د ترسره کولو لپا ره و یجا ړ اویا تر برید لاندي راشي لازم بریښی چي یادونه وکړو او هغه داچي دا داولسمشر **دونا لد ترامپ** دلارښونی سوغا ت دي کوم چي هغه وروسته د خپل تحلیف له مراسمو څخه د پوځ اود امریکی د جا سوسی شبکی مسولو مقا ما تو او ریسا نو ته د طا لبا نو په وړاندی د مبارزی د کچی د لوړولو د ستورورکړ- **ترامپ** د ملکی تلفا توکمولو لپا ره د (بارک اوباما) داداری د نښتی قوا عد چي د جنګ په میدان کي پرمخ وړل کید له ، کمه کړ یا له مینځه ویوړل ا و د پوځ د قوما ند ا نا نو اختیارات یی لوړ کړ اوپه عین حا ل کي ( 3000) اضا فی سرتیری ا فغا نستا ن ته ولیږل ، د بلی خوا څخه داکتوبرپه میا شت کا ل (2017) **مایک پمپیو** د(سي آی اي) دوخت ریس وویل : چی اداره باید سختګیر ، بی رحمه ، بی بخښونکي اونه ستړی کیدونکي اووسی ......مونږ با ید هر د قیقه د خپلو د ښمنا نو په ځپلو کي خپل اولسمشر او د بیلما تا نو لپا ره دغیر عادلانه ګټی په چمتو کولو با ندی خپل ذهن متمرکز کړو .

بدلونونه ممکن د جګړې ډګر شرایط رامینځته کړي وي چې له مخې به يې طا لبا ن د متحده ایالاتو سره د سیا سي جوړجا ړي خبرو اترو ته اړ باسي. د یوناما وروستي راپور په یوه میاشت کې دجولای په میا شت کې د ملکي تلفا تو ترټولو لوړه شمیره مستند کړې چې دا لسیزه د مخه پیل شوې. د راپور په وینا ، د تیر کا ل د ورته مودې په پرتله سږکال د هوايي بمبارېو له امله د ملکي مرګ ژوبلې شمیره « 71 » سلنه زیا ته شوې.

یوناما هم پدې کا ل د عملیا تونو په لړ کې د ملکي خلکو د وژل کیدو اود ټپي کیدو په شمیرنه کې د زیاتوالي خبرورکړی ، که نه نو د شپې بریدونه هم پیژندل کیږي.د یوناما لخوا ثبت شوي تلفا تو ترنیما یي ډ یر په مجموعي ډول( 147 ) د ملي امنیت ځا نګړو ځواکونو واحدونو ته منسوب شوي ، کوم چې د دی شمیر په تلفا تو کې د( 01) ملیشی ډلی هم ونډه اخیستي دي .

په هیڅ یوبل ځای کې لکه هغسی چې تاوتریخوالي دوردک په ولایت کې تر سترګو کیږی دومره شدید نه دي دسویډ ن دروغتیا یی کمیتی د کلنیک کارکونکو تر اوسه پوري د(51) امنیتی له پیښوڅخه خبر ورکړي اوددی پیښو له جملی څخه یوه ډیر لوی او انګشت نما هغه پیښه دی چې د(01) ډلي ملیشو پوری اړوند دغیر دولتی موسسو کارمندانو په باور دوردګ په ولایت د تنګی سیدان پریو روغتیایی کلینک برید چی دهغه ولایت دتنګی دکلی څخه په یو بل سیمه کې پروت دی په زورسره خپل لار کلینک ته راکاږی او پر یو سړی باندی چې دخپل ناروغ سره دکلینک په لور روان وه ډزی کوی د کلینیک نور څلورتنو کارکونکی دکلینک څخه دباندي باسی ، دری نورو روغتیا یی کارکونکي اودوه سویډنی کارکونکي په ډزو سره وژنی او یو بله سویډ نی کارکونکی بندی کوی اومخکی له هغه چی هغه خوشي کړی هغه ټښتول کیږي دهغه ځای ځا یی شاهدان وویل چی د برید په وخت کې یوائی افغا ني سرتیری شتون درلود .

دسویډن کمیټې د پروګرام رییس ډاکټر **خالد فهیم** د برید څخه وروسته په یوه بیان کې وویل: "دا د نړیوال بشردوستا نه قا نون خلاف ټکا ن ورکوونکی عمل دی او موږ له ښکېلو خواو څخه غواړو چې سمد ستي د ملکي وګړو او روغتیا یی تا سیسا تو په نښه کول ودروي."

د ا فغا ن د ملیشو واحدونه یا« د سی اي ای» تر ملاتړ لاندي ډ لي د کلینیک کارمندان ملا متوی یا پرهغو با ندي ګوتې څنډ نه کوی چې د طا لبا نو د جنګیا لیو سره د ورته نظر خاوندان دی اودهغو څخه پوره سا تنه یا دهغوی مراقبت کوي. نو که چیری هغوی با ور لري چې طا لبا ن د خد ما تو د پکار وړلو وړتیا لري نوی دوی هڅه کوي چې دهغو دغه وړتیا ګډ وډ کړي . د سویډ ن دروغتیا یی د کمیټی سکرتر **جنرال ا ند ریس شتیفنسن** (Andreas Stefansson) وویل : دا خورا ډیر مسخره کونکی اویا دخندا وړ خبره دي چې روغتیا یی خد متونه په دي بنی سره ا بزاری ګرځول کیږي .

د یو سویډنی کارکونکي د راپور پر بنیاد ددی کلنیک ورته په یو بل کلینیک باندی افغا نی سرتیری پروسږ کا ل د فبروری میا شت کا ل (2016) کی برید ترسره کړی وه چې دهغه برید په ترڅ کې دوه ناروغان اویو هلک چی دخپل ناروغ لیدوته راغلی وه خپل ژوند دلاسه ورکړل- کوم چي بی له شکه دهغو سره بین المللی سرتیری هم مل وه ، په راپورکې راغلي چې خارجي سرتیری امریکایان وه اوداځکه چي امریکا هغه یواځنی هیواد دي کوم چي د « ناتو» له انتقا ل څخه وروسته په رسمي توګه سره دافغا ن د امنیتی ځواکونو د روزنې

اود زده کړي مسولیت په کا ل (2014) پر غا ړه واخیستل چې ا فغا نـی سرتیرو سره د عملیا تونو په سرته رسولو کـی پوره مشوره او لارښونه وکړي .




**ډاکټر خا لد فهیم ، د ا فغا نستا ن لپا ره د سویډن کمیټي د برنامې رییس ، د جوالی په 17 ، 2019 په خپل دفتر کې. وایی چې په وردګو کې د دې موسسې کلینیکونو په وار وار د« 01 » ملیشو لخوا تربرید لاندی پریوتی دي . عکس: رحمت ګل / AP**

سویډنـی کمیټې او د سویډن حکومت غوښتنه وکړه چې د افغانستان حکو مت او بهرنـي ځواکونه خپلواک تحقیق وکړي. ستیفنسن انترپیس(intercept) ته وویل ، له هغه وخت راهیسي افغان چا رواکو سویډن کمیټي ته ویلي چې په دې اړه یوه څیړنه ترسره شوې خو په اړه یې معلوما ت ندي وړاندې کړي چې دا چا ترسره کړې ، څنګه او څنګه یې موند لي.

ستیفسن وویل : چي حسا ب ورکول دپوښتنـی یو لوی نښه دي .

په ا فغا نستا ن کي دسویډن دروغتیایی چاری کمیټه ډیر اوږد تاریخ لري او هغه داچي د طا لبا نو د زمامداری په وخت کوم چي هغوی له کال (1996 )څخه تر ( 2001 )پوری د لته په افغا نستا ن کی حکومت لرل دی ډلی یعنـی د سویډن روغتیا یی کمیټه په ټول هیواد کي (11000) کارکونکي په کار ګمارلي وه اود دی ریښی د وردګ په ولایت کي بیا په ځا نګړي بڼی سره ډیر ژور دي چیری چي دغه کمیټه له کا ل (1980) څخه راهیسی فعا لیت کوي نوموړي کمیټه له کا ل (2003) څخه تول (77) روغتیا یی تاسیسا ت په ا فغا نستا ن کـی لرلی چی دهغه څخه پوره وارسی او څارنه کوی البته چي دهغه په اړخ کي د میدان وردک د ښا ر دروغتون چاری هم ترسره کوی یعنـی چی دنوموړی روغتون د چلولودنده هم پرغاړه لري ۰دپام وړمطلب داچي کله دتنګی سیدان روغتیایی کلینک دجولای په میاشت کی تر برید لاندي راغی نو په سیمه کی داسی آوازخپور شوی وه چی دا کلینیک ځکه د افغا نـی سرتیرو تر برید لاندي پریوتل کوم چي دغه کلینیک د طا لبا نو دروغتیایی کلینیک په نوم سره مشهور شوی وه -

د کا ل (2019) په لمړیو شپږو میاشتو کي داکتر خالد فهیم آنلاین (intercept) ته وویل : د کلینیک طبی کارمندان د(279) ولادتونو خد ما ت ، (1374) ښځو ته واکسینیشن ، او د ولادت څخه مخکی د (453) امید واری ښځو څخه لید نه یا ویزیت ترسره کړی او همدارنګه دولاد ت څخه وروسته (39) ښځېي څخه لید نه کړی او برسیره له پورتنی خد ما تو څخه (12) سزارین عملیا تونه ترسره کړی اوهم دهمدی کا ل په اولو څلورو میا شتو کی کم ترکمه (3270) د کوچنیا نو نا روغی تشخیص او دهغو څخه درملنه کړي دي.

په هرصورت دسویډن روغتیا یی کمیټه خپل ځا ن د ښکیلو خواو ( دولت او طا لبا ن)

د تا وتریخوالي په مینځ کي وینې ، او نشي کولي چي دواړه خوا وي خوشحا له کړي یا چي ددواړو خوا رضا یت تر لاسه کړي ، - نو د ما رچ دمیا شتي دیولسمی نیټی د (01) ملیشه ا یی واحد دډلی پر کلینک با ندی د برید څخه وروسته د طا لبا نو د سیمه ایز روغتیا یی کمیسون استا ذی دسویډ ن د کمیټی ستاف (کارمندانو) ته وویل : که چیری تا سی د سویډ ن روغتیا یی کمیټه په ورد ګو کي دغه کلینیک ونه تړي نو طا لبا ن دا ډاډ ترلاسه کوي چي دسویډن کمیټی پوري اړین کلینیکونه دوردګ په ټولو سراسر کي شتون لری نو دسویډن د کمیټی په ګذارش سره کلینیکونه باید چي وتړل شی یا تعطیل کړ شي . دسویډن دروغتیایی کلنیکونو مسول دکلینیک دتړلو دستور ورکړ چی کلینیک باید تر دری ورځو پوری دی تعطیل کړ شي . د سویډن د کمیټی د یو کارمند دخبر پر اسا س دکلینیک د تړلو اسا سی دلیل دا وه چی دهغه کلینیک کا ر مندان پر کلینک باندی دبرید له امله چی زیا ت تر فشا ر لاندی راغلی وه دهغو د بیا ارامش لپا ره اوهم دهغه کلینک د تجهیزاتو د د بیرته چمتو کولو لپا ره چی د برید په وخت کي لوټ شوی وه وتړل شو پر کلینیک باندي دجولای دمیاشتي برید څخه طالبانو دغه غیر دولتی نهاد ته خبرداری ورکړ چی دسویډن دکمیټي مشرتابه دی باید دوردګ په ولایت کي هغه (42) صحی کلینیکونه چي د طا لبا نو تر ولکي لاندي سیمو کي فعا لیت کوي د (پنځو ) ورځو لپا ره دی وتړل شي نو که چیری د سویډن د کمیټی مسولین له دی خبرداری څخه سرغړونه وکړی نو هغوی دی باید د نا وړي پا یلی په انتظا ر کي اووسی .

هغو کسا نو کوم چي دهغه شپی د کلینیک له برید وروسته ژوندي پا تي شوی وه ، داسی وایي :چي خلک دافغانی (01) ملیشی د ډلی له خوا په دی دلیل ډبول شوی یا دهغو سپکاوی شوی ،چی دغه خلک طالبانو ته خواړه برابروی . داکتر فهیم وویل : وضعه ډیر پیچلی دي اوداځکه چي په کلیو اوباندو کي ملیمه پالنه دخلکو دود او رسوم دی اودبلی خوا څخه داپخپله خلکو ته ناقراری برابروی کوم چي خلک طا لبا نو ته (نه) نشی ویلی اوداچي طا لبا نو ته خواړه برابروی اویا هغوی ته د شپی له خوا پخپل کورونو کي ځای ورکوی دا دهغو د بقا ا و د ژوند پا تی کید و یوه ستراتیژی دي .



دا دهغه کور کنډوا له دی چی د مارچ په ا تمه کا ل ( 2019 ) کی د وردګو ولایت دسید آباد ولسوالۍ په تنګي درې کې دهوایي برید په واسطه ویجاړ شوی. .
عکس: وروسته له مداخلې څخه چمتو شوی

د مارچ په نهمه نیټه ددری بجی مخکی له غرمی څخه د تنګي سید ا ن په کلي کي په تپه جوپټیا وه تول هلیکوپټرونه د هغه سیمی له فضا څخه ورک شوی اود بمونو اود چا ودونو ِغږو نه تر غوږو کید له .

نو کله چي آسمان ورو ورو خپل نیلی رنګ اخیستل نودهغه کلي ځنی شمیر کلیوال چی د پرونی شپی له برید څخه ژوندي پا تي وه له خپلوکورونوڅخه خړ پړ اوپه وینو لړلی جامی سره دبا ندی ووتل اما دهغوی نور ګاونډ یا ن له خپلو کورونو څخه د با ندی نشو، نودهغه شپی د ما ښا م په مها ل د یو هوایی برید پواسطه سره یو کور ولرزید اودهغه خا وری اودوړی پورته شو کوم چی دهمدی کورد یو بخا ری د اودا ن ( آبد ا ن) څخه جوش اوبه دهغه کور په یو (دولس) کلن ا نجلی باندی چی **ثنا** نومیده توی شو دهغه پلار د **ولی محمد** په نوم وغوښتل چی دخپل انجلی څخه یو څادر یا یو تکر راتاو کړی چي په همدی وخت کي یو بله زوره وره بمی ګذار وشو چی دهغه په چا دونی سره کور په کنډواله باندی واغوښتل د**ولی محمد** دعمه ځوی دغه داستان د ا نلاین (intercept) مسول ته د مارچ په نهمه نیټه څرکند کړ.

دوران شوی کور د خاوری اود دوړی له لاندی **ثنا** (Sana) چي څومتره لیری له هغه ځای څخه چی دهغه مور مړه شوی پروت وه ساه را ایستل هغه یعنی **ثنا** دخپل پلار په سینه کی دزیات درد له کبله څوکان وهل چی په همدی وخت کی دکور چت (بام) وروړو پر هغو باندی د ښکته کیدو په حال کی وه نوهغوی په ناراحتی سره خپل ځان تپی کړ او **ولی محمد** دخپل کور دورانی شوی توټی پا رچي په اصا بت سره ړوند شو اوهغه په دی وخت کی داسی احسا س کول چی دهغه لور **( ثنا)** دهغه په غیږ کي ساه ورکوی او مړه کیږي – نو په هغه شپه کی د بمونو په ګذار سره په دغه کلی کی د **ولی محد** دکور څخه بر څیره دری نور کورونه هم چي پکی کور والا ژوند کول د خا وری سره خا وری شو او د **ولی محمد** ګا ونډ یا ن له هغه دری وران شوی کورونوڅخه دری مړی له خاورولاندی څخه را بیرون کړددی دری مړی یا کسه له جملی څخه دوه یی په دی وختونو کی تا زه له ایران څخه وطن ته راغلی وه کوم چی هغو مړی دهغوی دیو ملګری پواسطه سره چی دهغوی سره مخکی ملګرتیا لرل له خا وری څخه د با ندی کړ شو برڅیره پردغه دری مړی ، جوما ت ته نژدی ترخا ورو لاندی بل دری مړي راپیدا شو چی دهغه سیمی دخلکو په وینا سره دغه مړی د طا لب جنګیا لی وه په دی وخت کی دهغه کلي یو سړي انلاین (intercept) ته وویل چی مونږ دمړوداندامونو دټولولو په وخت کی نه پوهیدو چی دغه پریکړی لاس کوم مړی پوری تعلق نیسی نو مونږ د مړو ټول ټو ټی ټوټی شوی غړی لمړی په یو لوی پلا ستکي کڅوړه کی سره را ټول کړ اوبیا مو راټول کړ شوی غړی په دری تا بوتونو کي ځای پر ځای اوبیا مو مړی ښخ کړل .

**ولی محمد** ډ یر زیا ت ټپی شوی اودهغه صورت په وینو کی پوښلی او لړلی تر سترګو کیده دهغه عمه ځوی چی مرستی ته راغلی وه نو **ولی محمد** هغه ته وویل چي زه ښه یم لاړ شه ځما لور **(ثنا)** را پیداکړه چی له خا وری څخه دباندی ایستل شوی وه لا بهبودی نه وه تر لاسه کړي .

په هغه سهار کي دسویډن کمیټي کلنیک ته دهغه ځای ، ځایي خلکو دنوموړی کلینیک دکارمندانو سره دمرستي لپاره راغلي وه یعنی هغه کارمندان چی د شپی له برید څخه ژوندي پاتی وه مګر هغوي پوره ډبول شوی وه اودهغو صورت په وینو لړلی معلومیدل تر هغه چي هغوی په چوکیوکی دپلاستکي رسیو پواسطه سره تړل شوی وه – یو ددغه برید څخه ژوندی را پا تي کا رمند د کلی خلکو ته وویل : چي برید کونکو **حشمت ا لله**

اودامبولانس ډریور **مجاهد** نا مې نیولي دي .

د ملیشو غړي چې دسو یډ ن د کمیټي پر کلینیک با ندی برید کړي وه د مجاهد د کلیمې سره ډ یره ځا نګړی علاقه لرل اوداځکه چي دهغه مفهوم د «اسلامې جنګیالي» نوم دی چي البته په ا فغا نستا ن کي داسې نومونه غیر معمول هم نه دي . نو دوی له **حشمت الله** اودکلینک دنوروکارمندانوڅخه د مجاهد په اړه پوښتنی کړي وه ، د کلینیک یو کارکونکي چي هغه آنلاین (intercept) بواځی فرید (Frid) په توګه پیژانده سرتیرو ته وویل چې دامبولانس ډریور (ښه سړی ) وو اوهغه یواځې په میا شت کي (190) دالره معا ش درلود کوم چي دا ډیر کم پیسی دي.

سرتیرو دواړه یعنی **حشمت الله** او **مجاهد** دباندی یخ هوا ته وویستل اوهغوی دشپې له خوا هلته دبا ندی ودرول ، **حشمت الله** هلته په یخه هوا او په واورو کی تقریباً نیم ساعت مخکی له دی چي هلیکوپتر ته پورته شي مزل ووهل اوهغه په واورو کی د یخنی له ا مله پړمخ ولویدل یعنی چي په سینه ولویدل وروسته له یوشیبي څخه پرهغه با ندی غږ شو ، سرتیرو هغه دیو اوسپنې د تختی دپا سه :کیښنولی اوهغه یعنی **حشمت الله** نه پوهیده چي دهغه سره دهغه دری نور همکا ران هم ورسره دي ، **حشمت الله** چي د یخنی له امله لړزید له پر هغه با ندی کله چي خبری کول واروګذار کید له په هرصورت هلیکوپتر له خمکي په هوا شو او نیم سا عت وروسته بیرته خمکی ته راښکته شو، او **حشمت الله** یی د یوی زندان مرکز ته د پوښتنی اود سوال و ځواب لپا ره راوړل شو له هغه څخه لاسی تلیفون واخیستل شو چي دخپل کورنی سره خبری ونکړی او نوموړی برید کونکو له هغه څخه نقده (9) ډاالرپیسی هم واخیستل هغه بیا وروسته له شل دقیقو مزل څخه د شپی له خوا د کا بل د یو ترافیک په څلور لارو کي پلی کړ شو ، کوم چي بیا هغه په یوټکسی کی د پنځه ساعتو له مزل حخه خپل کورته ورسید اودنوی کا ل ورځ دخپل کورنی سره تیره کړ اوبیا پرسبا یی بیرته کلینک ته راستون شو نو حشمت الله هغه وخت پوه شو چي پرهغه څه راپیښه شوی . امبولانس چلونکی **مجاهد** نام لا تر اوسه لادرک او کلینیک ته نه دی راستون شوی دهغه همکاران کله چي **حشمت الله** یواځی ولید حیران او ناهیلي وګرځید او هغه داچي دهغه سره چي **مجاهد** نیول شوی وه یوځای نه وه .

داپریل دمیاشت په وروستیو کي یعنی دبرید له نیتی څخه (اوه ) اونی وروسته دهغه دړی وړی شوی کور څیښتن دکور د بیا رغولو لپا ره تنګی سیدان ته راستون شو هغه دیو شکمن ظا لب مړی دخپل کورد خاوری له لاندی ر اوویستل اوهم دخپل دکورړنګ او نسکورشوی دیوال تر لاندی یوه بله دمړی جسد پید اکړ .

**حشمت الله** وویل چې ددی اوږد مودی له امله چې له برید څخه تیر شوی ګرانه دی چي دغه جسد ونه وپیژندل شي یا دهغوی هو یت معلوم شي نو مونږ هغه جسدونه په یو کڅوړی کی واچول او ښخ مو کړل .نودبلې خوا څخه سرتیرو دکلنیک پوری داړوندو کارمندانو ټول اسناد په پلاستیکي کڅوړی کی واچول اود هغه کڅوړی خوله په پلاستکي مزی سره کلک وتړل اودځا نه سره ویوړل اما **مجاهد** لا تراوسه د خپل غا ړي په شا وخوا کی یو ګلوبند یا بنداژ لري .

-------------------------------- **په سلامونو** **«2019-11-04»**